# زیرے

# زیرے

# زیرے

د عیسیٰ مسیح د پیدا ینت واقعه

په انګریزۍ او پښتو ژبه کښې

# فرېښته زیرے راؤړی

## لوقا وړومبے باب

کله چی هېرودیس د یهودیې بادشاه وو خدائ پاک جبرائیل فرښته د ګلیل په ناصرت نومې ښار کښې یوې پیغلې ته راواستوله چې کوژدن یې د داؤد د خاندان یُوسف نومې سړی سره شوې وه او د دې پیغلې نُوم مریم وُو. فرښته هغې له ورغله او ورته یې ووئیل، " په تا سلام چې دربانديې ډیر فضل شوے دے، رب ستا مل دے!"

فرېښتې چې څۀ ووئیل مریمه په هغې ډیره فکرمنده شوه او حیرانه وه چې د دې مُبارکئ څۀ مطلب دے.

فریښتی هغې ته ووئیل: " مریمی! وېرېږه مه! خدائ په تا مهربانه شوے دے. تۀ به امیدواره شې او یو زوئ به دې وشی او تۀ به د هغۀ نوم عیسیٰ کېږدې.

هغه به لوئ وی او هغه به د الاعلیٰ زوئ وبللے شی. مالک خدائ به هغۀ ته د نیکۀ داؤد تخت ورکړی. هغه به د تل دپاره د یعقوب په خداندان بادشاهی کوی او بادشاهی به یې هیڅ کله نۀ ختمیږی.

مریمې فرښتې ته ووئیل : "دا څنګه کیدے شی؟ زۀ خو لا وادۀ شوې هم نۀ یم."

فرښتې جواب ورکړو: "روح القدس به په تا نازل شی او د الاعلیٰ قدرت به په تا سورے وکړی او په دې وجه به هغه پاک پیدا کیدونکے ماشوم د خدائ زوئ بللے شی. ستا خپلوانه الیشبع هم امیدواره ده او په زوړ عمر به زوئ راؤړی او څوک چې په شنډه مشهوره وه، د هغې د امیدوارئ شپږمه میاشت ده.

ځکه چې د خدائ وعدی به هیڅ کله بې طاقته پاتې نۀ شی."

مریمې ووئیل: "زۀ د رب وینځه یم. تا چې څۀ وئیلی دی داسې دې وشی."

# فرښته يوسف ته راځي

متی ووړومبې باب

مخکښې له دې چې يوسف د مريمې سره واده وکړی پته ولګيده چې مريمه د روح القدس په مرسته اميدواره شوې ده . يوسف يو نيک سړے وو، نو هغهٔ د هغې د بدنامۍ نه د بچ کولو دپاره په پرده کښې د کوېژدن ماتولو نيت وکړو.

هغهٔ دا نيت کړے وو چې په دې کښې د خدائ يوه فرښته په خوب کښې ورته راغله او ورته يې ووئيل چې: "اے د داؤد زويه يوسفه! دمريم سره د وادهٔ کولو نه مهٔ يريږه، ځکه چې د هغې اميدواری د روح القدس په قدرت ده.

د هغې به زوئ وشی او تهٔ پری عيسیٰ نوم کيږده، ولی چې هغه به خپل اُمت د ګناهونو نه خلاصوی."

دا هر څهٔ ځکه وشول چې خدائ د نبی په معرفت څهٔ وئيلی وو هغه پوره شی: "ګورئ، يوه پيغله به اميدواره شی او زوئ به يې وشی او د هغهٔ نوم به عمانوايل کيږدی" چې معنیٰ يې ده خدائ زمونږ مل دے. "

هر کله چې یوسف د خوبه بیدار شو نو د خدایٔ د فرښتې حکم یې ومنو او مریم یې خپل کور ته د خپلې ښځې په طور راوسته. او تر هغې یې لاس ورنۀ وړو تر څو چې یې زویٔ پیدا شوے نۀ وو، او د هغۀ نوم یې عیسیٰ کیښودو.

## د عیسیٰ پیدا ښت

لوقا دویم باب

په هغه ورځو کښې د رُومي قیصر اوګُوستوس د لورې دا فرمان جارې شو چې په رُومي بادشاهئ کښې دِ د ټولو خلقو نومُونه ولیکلے شي.
دا وړُومبئ مردُم شماري وه چې د شام د حاکم کیرینیوس په وخت کښې وشوه. د دې عرض د پاره هر یو کس خپلې خپلې ښاریې ته لاړو.
اؤ دغه شان یُوسف هم د ګلیل د ناصرت نه یهُودیه ته لاړو چې د داؤد په ښاریه بیت بیتُ لحم کښې خپل نُوم ولیکی ځکه چې هغه د داؤد د خاندان د اولاده وُو. او د هغۀ سره مریم هم لاړه څوک چې د هغۀ چنغله وه او هغه اُمیدواره وه.

او هر کله چې هغوئ لاهلته کښې وُو نو د هغې د بچی د زیږیدو ورځې پُوره شوې، او د هغې ورُومبے زوئ پیدا شو. هغې هغه په اُوړنی کښې ونغښتو او په یو اخور کښې یې کیښود ځکه چې په سرائې کښې د هغوئ د اوسیدو د پاره ځائې نۀ وُو.

## شپُونکی او فرښتې

هم په دغه وطن کښې څۀ شپُونکی وُو چې په میره کښې یې د شپې د خپلو رمو څوکئ کوله، چې ناڅاپی د رب فرښته د هغوئ په وړاندې ودریده.

او د رب نُور د هغوئ چارچاپیره خور شو او هغوئ ویرې واخستل.
خو فرښتې ووئیل چې" ویریږئ مه! ما تاسو ته یو زیرے راوړے دے چې د خلقو د پاره به یوه لویه خوشحالی وی، چې نن د داؤد په ښار کښې ستاسو خلاصُونکے پیدا شوے دے چې هغه مسیح مالِک دے! او ستاسو د پاره د هغۀ دا

نخښنه ده چې يو ماشُوم به په اُورنی کښې نغښتے په اخور کښې پروت ومُومئ."

ناڅاپه د هغې فرښتې سره د آسمانی لښکر يوه ډله راڅرګنده شوه او د رب دا ثنا يې ووئيله چې: "دَ خدائ پاک حمد دِ وی پاس په آسمان کښې، او په مزکه دِ د هغه خلقو د پاره سلامتی وی په چا چې هغه مهربان دے!"

هر کله چې فرښتې د هغه ځايه آسمان پلو رُخصت شوې نو شپُونکو يو تر بله ووې، "ځئ چې اوس سمدستی بيتُ لحم ته لاړ شُو او دا شوے کار وُوينو کُوم چې رب مُونږ ته څرګند کړے دے."

هغوئ په منډه لاړل او د مريمې او يُوسف پته يې ولګوله او ماشُوم چې په اخور کښې پروت وُو. کله چې هغوئ دے وليدو نو هغه خبره يې راياده شوه چې د دې ماشُوم په حقله هغوئ ته وئيلے شوی وه. او د دې شپُونکو خبره چې چا واؤريده، ټول حق حيران شول.

خو مريمې دا ټولې خبرې زړهٔ ته واچولې او سوچ يې پرې کاوو. په دې دوران کښې شپُونکی بيرته لاړل او څهٔ چې يې ليدلی او آؤريدلی وُو په هغې يې د خدائ پاک ثنا وئيله لکه څنګه چې هغوئ ته وئيلی شوی وُو.

# ستورو علم لرونکی ماشوم لټوی

## متی دویم باب

د هیرودیس بادشاه په ورځو کښې د یهُودیه په بیتُ لحم کښې عیسیٰ پېدا شو. د هغهٔ د پېدا ایښت نه پس بیتُ المُقدس ته د نمر خاتهٔ د لوری نه

د ستورو علم لرُونکی راغلل او وئیل یې چې "هغه د یهودیانو بادشاه کیدُونکے ماشُوم چې پېدا شوے دے چرته دے؟ ځکه چې مونږ د نمرخاتهٔ نه د هغهٔ ستورے په راختو لیدلے دے او هغهٔ ته سجده کولو ته راغلی یُو."

هیرودیس بادشاه په دې آوریدو پریشان شو او د بیتُ المُقدس ټول اولس هم. هغهٔ د یهودیانو ټول مشران امامان او د شریعت عالمان راوبلل او هغوئ ته یې دا سوال وړاندې کړو چې "مسیح به چرته پېدا کیږي؟" هغوئ ووئیل چې "دَ یهُودیه په بیتُ لحم کښې". او هغوئ د هغې پیشن ګوئی حواله ورکړه چې په کښې د نبی په معرفت لیکلے شوی دی چې: " اے د یهُودیه د مزکې بیتُ لحم ښاریې ! تهٔ د یهُودیه په لویو ښارُونو کښې هیڅ کله هم ورکوټې نهٔ یې،

ځکه چې ستا نه به هغه سردار راؤزی چې زما د خلقو اِسرائيلو شپُون به وی."

هيروديس بيا د ستورو علم لرُونکی په پرده کښې راوبلل او د ستوری د راختو وخت يې ترې يقينی کړو. هغۀ بيا

دوئ بيتُ لحم ته واستول او ورته يې ووئيل چې "لاړ شئ او د هغه ماشوم په حقله پُوره پُوره تحقيق وکړئ، او چې بيا يې مُومئ نو ما خبر کړئ چې زۀ هم ورشم او سجده ورته وکړم."

د بادشاه په حُکم هغوئ روان شول او هغه ستورے چې دوئ په راختو ليدلے وو د دوئ په وړاندې روان وو او آخر په هغه ځائ ودريدو چرته چې ماشُوم پروت وو. هغوئ د ستوری په ليدو ډير خوشحاله شول. کورته په ننوتو يې ماشُوم د خپلې مور مريم په غيږ کښې وليدو او ورته په سجده پريوتل . پس له هغې يې خپلې هميانئ وسپړدې او هغۀ ته يې نذرانې پيش کړې چې په کښې سرۀزر، لوبان او مر وو. هغوئ ته په خوب کښې دا حُکم وشو چې هيروديس بادشاه له بيرته مۀ ځئ، نو هغوئ په بله لار کورته واپس شول.

# د یوسف، مریم او ماشوم عیسیٰ مصر ته هجرت کول

کله چې هغوئ رُخصت شول نو یُوسف ته د خدائ پاک یوه فرښته په خوب کښې حاضره شوه او ورته یې ووئیل چې "پاڅه! ماشُوم او مور یې د ځان سره کړه او مصر ته هجرت وکړه، او تر هغې هلته ایسار شه چې زۀ درته ووایم ځکه هیرودیس د دې ماشُوم په تلاش کښې دے چې ختم یې کړی."
او یُوسف د خوبه بیدار شو او شپه په شپه یې ماشُوم او د هغۀ مور مصر ته بوتلل، او هلته د هیرودیس تر مرګه پورې وو. دا د خدائ پاک هغه وینا پُوره کول وُو چې هغۀ د نبی په معرفت وئیلی وُو چې "ما خپل زوئ د مصر نه راوبللو."

# په بیت الحم کښې د ماشومانو قتل

هر کله چې هیرودیس د مُسافرانو په دوکه پوهه شو نو زیات په قهر شو او حُکم یې وکړو چې د بیتُ لحم او خوا او شا
هغه ټول ماشُومان چې دوه کاله یا کم عُمر لری، هغه وژنئ.
دا حساب یې د مُسافرانو د وینا په اندازه لګولے وو.
دغه رنګ هغه خبره چې د یرمیاه نبی په وسیله شوې وه پُوره شوه چې : " په راما کښې یو غږ واؤرید ے شو چې راحیل په خپل زوزاد ژړا انګولاکوله، او هیڅ تسلی یې قبوله نهٔ کړه ځکه چې هغوئ نِشته."

# یوسف ، مریم او عیسیٰ واپس اسرائیل ته ځی

کله چې هیرودیس مړ شو نو ګورئ، د خدائ پاک فرښته په مصر کښې یُوسف ته په خوب کښې حاضره شوه او ورته یې ووئیل چې "پاڅه! ماشوم او مور یې د ځان سره کړه او د دوئ سره د اِسرائیل مزکې ته لاړ شه، ځکه چې د چا نه چې د دې ماشُوم سر ته خطره وه هغوئ مړۀ دی."

نو هغه پاڅیدو، ماشوُم او مور یې د ځان سره روان کړل او د اِسرائیل مزکې ته راغلل. خو چې دا یې واؤریدل چې د خپل پلار هیرودیس په ځائ ارخلاؤس د یهُودیه بادشاه دے، نو هلته د تللو نه ویریدو. او چې په خوب کښې ورته دا خبر وشو نو هغه د ګلیل علاقې ته بیرته لاړو، هلته هغه په ناصرت نُومې ښار کښې دیره شو. دا د نبیانو په وسیله د وئیلے شوې هغه خبرې تر سره کول وُو چې: "هغۀ ته به ناصری وئیلے شی."

او ماشوم غټ او تکړه شو. هغه ډېر هوښیاروو او د خدائ فضل او برکت د هغۀ سره وو.

# شُکر گزاری

ډیر شُکر دے خدایا چې تا د دې دُنیا خلاصونکے عیسیٰ مسیح راولیږلو.

زمونږ خلاصونکے هم هغه دے څوک چې وائی: " اے تاسو چې ټول خواری کوئ او پنډ مُو درُوند دے، ماله راشئ او زَۀ به آرام درکړم. زما جغ په غاړه کړئ او له ما نه زده کړئ، ولې چې زَۀ حلیم یم او په زړۀ کښې غریب، او ستاسو رُوحونه به آرام مُومی. ولې چې زما جغ په وړلو کښې پوست دے او زما پنډ سپک دے."
(متی ۱۱ : ۲۸ – ۳۰)

تاسو د عیسیٰ مسیح پوره قیصه په انجیل شریف کښې مطالعه کولے شئ.